د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 518**

(06 - 12 چنګاښ 1405 هـ ش)

## د ايران او متحده ايالاتو ترمنځ د ترسره شوې هوکړې ارزونه

---



**دا نشريه د افغانستان او سيمې د مهمو سياسي، امنيتي، اقتصادي او ټولنيزو پېښو د تحليل اوونيزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګليسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.**

# په دې ګڼه کې لولئ:

- د ایران او متحده ایالاتو ترمنځ د ترسره شوې هوکړې ارزونه.........................................3
- د هوکړې محتوی ..............................................................................3
- پایله ........................................................................................8
- سرچینې .....................................................................................9

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د ایران او متحده ایالاتو ترمنځ د ترسره شوې هوکړې ارزونه

### سریزه

د متحده ایالاتو او ایران ترمنځ لاسلیک شوې هوکړه ۱۴ مادې لري[1] چې د دغه دواړو هېوادونو ترمنځ راتلونکو مذاکراتو لپاره لارې چارې برابروي. دغه هوکړه د روان ۲۰۲٦ز. کال د جون میاشتې پر ۱۷مه نېټه د امریکامتحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ او د ایران ولسمشر مسعود پزشکیان د چهارشنبې پر ورځ لاسلیک کړه[2]، چې له امله یې د دواړو هېوادونو ترمنځ درې میاشتنۍ جګړه پای ته ورسېده. ټرمپ دغه هوکړه په فرانسه کې د اوو صنعتي هېوادونو (G7) د سرمشریزې په څنډه کې لاسلیک کړه او له دې کار یې موخه دا وه چې د نړۍ او اروپا د ستر قدرتونو په منځ کې دغې هوکړې ته رسمي بڼه ورکړي او نړۍ ته وښایي چې دی د جګړې پای ته رسوونکی او د سولې سمبول دی. په دغه هوکړه کې پر ٦۰ ورځو اوربند توافق شوی[3] چې لبنان هم په کې شامل دی او دا د دایمي ټړون لپاره لارې چارې برابروي، یعنې د ایران د اټومي پروګرام او توغندیو پروګرام په اړه تفصیلي خبرې لا پاتې دي او په دې اړه د تفصیلي مذاکراتو لپاره دغه هوکړه یو بستر جوړوي.

دغه تحلیل د دې پوښتنو د ځواب لپاره لیکل شوی دی چې د ایران او متحده ایالاتو ترمنځ دغه هوکړه به ایا جګړه پای ته ورسوي؟ هوکړه د کوم لوري په ګټه ده؟ او په هوکړه کې په کومو مواردو بحث شو دی.

### د هوکړې محتوی

د امریکا متحده ایالاتو او ایران ترمنځ په لاندې مواردو هوکړه شوې ده:

**۱- اوربند او د لبنان مسئله:** لومړنی او مهمه موضوع چې هوکړه پرې شوې هغه د دواړو هېوادونو ترمنځ په ټولو جبهو کې د جګړې پای ته رسول دي. ایران په دې هوکړه کې لبنان هم شامل کړی او پر متحده ایالاتو یې دا منلې ده چې لبنان کې هم باید جګړه پای ته ورسېږي او دغه هېواد هم باید د اوربند برخه وي. دواړو لوریو په دې هوکړه کړې چې له دې وروسته به له زور څخه کار نه اخلي او د لبنان په ګډون به د یو او بل ځمکنۍ بشپړتیا او ملي حاکمیت ته درناوی لري.

د لبنان موضوع ځکه مهمه ده چې اسرائیل د تېر اوربند پرمهال هم څو ځلې پر لبنان بریدونه وکړل او بل دا چې اسراییل غواړي په لبنان کې ځینې سیمې په دایمي ډول ونیسي او هلته حایله سیمه یا امنیتي کمربند رامنځته کړي[4]، نو ایران غواړي چې پر متحده ایالاتو د لبنان ځمکنۍ بشپړتیا ومني، معنی دا چې د اسراییلو هغه موخه له منځه یوسي چې په لبنان کې حایله سیمه رامنځته کړي. سره له دې چې په دې هوکړه کې د اسراییلو نوم نه دی ذکر شوی او اسراییل مکلف هم نه دي چې دې هوکړې ته پابند اوسي، خو ایران فکر کوي چې متحده ایالات د یو قدرت په توګه کولای شي چې اسراییلو باندې فشار راوړي او هغوی قانع کړي چې په


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

لبنان کې جګړه پای ته ورسوي، څکه د متحده ایالاتو له همکارۍ او دفاع پرته اسراییل له ایران سره جګړه مخ ته نشي وړلی، نو اسراییل مکلف دی چې د متحده ایالاتو خبره ومني.

**۲- ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه:** بله موضوع چې هوکړه لیک کې پرې موافقه شوې هغه د ایران ملي حاکمیت ته د متحده ایالاتو له لوري درناوی لرل، ځمکنۍ بشپړتیا یې منل او د ایران په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کول دي.

د دې موضوع له لارې ایران غواړي چې د متحده ایالاتو لاسونه د نظام د بدلون په برخه کې لنډ کړي، له دې هوکړې وروسته به متحده ایالات په ایران کې لاریون کوونکي نشي حمایه کولی، د نظام د بدلون لپاره به په کور دننه دسیسې نشي جوړولی او په عمومي ډول د ایران د خاورې ځینې برخې به هم تر خپل تسلط لاندې نشي راوستلی.

**۳-  لنډمهاله هوکړه:** د هوکړې له متن څخه معلومیږي چې دا هوکړه لنډمهاله او د اوږدمهاله تړون لپاره بستر جوړوي. په هوکړه کې راغلي چې دواړه لوري ژمنه کوي چې د ٦٠ ورځو په جریان کې به د مهمو بنسټیزو موضوعاتو په اړه خبرې اترې کوي او وروستۍ هوکړې ته به ځان رسوي، البته د دواړو لوریو په رضایت سره دغه موده غځېدلی هم شي.

دا هوکړه به ایران ته دا فرصت برابر کړي تر څو د نهایي هوکړې لپاره هر اړخیز تفاهم ته ورسیږي او په کور دننه د اټومي وسلو او توغندیو د محدودیت په اړه نهایي نظر چمتو کړي او بل دا چې په دې موده کې به د اسراییل غبرګون او کړنې هم له نږدې وځاري. متحده ایالاتو ته به دا فرصت برابر کړي چې له جګړې یو څه دمه شي او کورني فشارونه هم کنټرول کړي او نهایي تفاهم لپاره خپله ستراتیژي جوړه کړي.

**۴- د هرمز تنګي خلاصول او د بېړیو ازاد تګ او راتګ:** ایران او متحده ایالاتو په دې هم هوکړې کړې چې متحده ایالات به د ایران سمندري محاصره پای ته رسوي او په مقابل کې به یې ایران د خپلو ټولو امکاناتو په کارولو سره د فارس خلیج او عمان سمندر ترمنځ د سوداګریزو بېړیو خوندي تګ راتګ د ٦٠ ورځو لپاره پرته له کوم لګښت څخه، تضمین کړي. د سوداګریزو بېړیو تګ او راتګ به سمدستي پیل شي او د تخنیکي او پوځي خنډونو د لرې کولو او ماین پاکۍ له بشپړېدو وروسته به په ۳۰ ورځو کې په بشپړ ډول هرمز تنګۍ د کښتیو تګ او راتګ لپاره عادي شي. همدارنګه ایران به له عمان سلطنت سره خبرې اترې کوي تر څو د هرمز تنګي د راتلونکې اداري او سمندري خدمتونو په اړه، د فارس خلیج د نورو ساحلي هېوادونو په مشوره او د نړیوالو قوانینو او د ساحلي هېوادونو د حاکمیتي حقونو له مخې، پرېکړه وشي.

د هرمز تنګي پرانېستل او د بېړيو عادي تګ او راتګ د نړيوال اقتصاد لپاره يو مهمه او حياتي موضوع ده. د هرمز تنګي له لارې د نړۍ پنځمه برخه نفت او ګاز لېږدول کېږي او که دغه تنګی عادي حالت ته لاړ شي، نو په ټوله نړۍ کې به د ګازو او نفتو نرخونه راټيټ شي، چې ښه بېلګه يې پاکستان دی چې د هوکړې له لاسليک وروسته به په کې د پټرولو او ډيزلو نرخونه راټيټ شول.[5]

**۵- د ايران بيا رغونه او د بنديزونو لرې کول:** په دې هوکړه کې متحده ايالاتو ژمنه کړې چې د ايران د بيارغونې او اقتصادي پراختيا لپاره به د خپلو سيمه ييزو شريکانو سره په ګډه د ۳۰۰ ميلیارده ډالرو په ارزښت يو عملي پلان جوړ کړي. دا پيسې ايران د جګړې د غرامت په توګه غوښتي دي، يعنې له متحده ايالاتو يې غوښتي چې د جګړې پرمهال چې کومې ويجاړې په ايران کې شوي دي د هغې د بيارغونې او جوړونې لپاره بايد دا پيسې ورکړي.

د دې موضوع په اړه درې خبرې د يادولو وړ دي: لومړی، دغه هوکړه به د نهايي هوکړې برخه وي، يعنې تر هغې چې د ايران د اټومي وسلو، توغنديو او نورو موضوعاتو په اړه د دواړو هېوادونو ترمنځ نهايي تړون نه وي لاسليک شوی تر هغې کېدای شي دا پيسې ورنکړل شي. دويم، دا پيسې کېدای شي د عربي هېوادونو او امريکايي خصوصي شرکتونو او پانګه والو له خوا تمويل شي. درېيم، د دې ترڅنګ په دې هم هوکړه شوې چې متحده ايالات به هغه محدوديتونه لرې کوي چې له مخې يې امريکايي او نورو اروپايي شرکتونه نشي کولای په ايران کې پانګونه وکړي، يعنې د نهايي هوکړې وروسته به د ټولې نړۍ پانګه وال وکولای شي چې په ايران کې پانګونه وکړي. د دې بنديزونو ترڅنګ متحده ايالاتو هوکړه کړې چې د ايران پر وړاندې نور ټول بنديزونه، د ملګرو ملتونو د امنيت شورا پرېکړه‌ليکونه، د اټومي انرژۍ د نړيوالې ادارې د حکامو شورا پرېکړه‌ليکونه او د امريکا متحده ايالاتو ټول لومړني او ثانوي يو اړخيز بنديزونه لغوه کړي.

متحده ايالاتو هوکړه کړې چې، تر هغې چې بنديزونه په بشپړ ډول نه وي لغوه شوي، د امريکامتحده ايالاتو د خزانې وزارت به د ايران د خامو نفتو، نفتي محصولاتو د صادراتو او همداراز د بانکدارۍ، بيمې، ترانسپورټ او نورو اړوندو خدمتونو لپاره لازم معافيتونه رامنځته کړي. ايران کولای شي خپل د تېلو او پټروليم اقتصاد سمدستي بيا فعال کړي، ځکه د بنديزونو معافيتونه يوازې د خامو تېلو صادرات نه، بلکې ټول اړوند خدمات هم پوښي، لکه بانکي سيستم، بيمه او ترانسپورټ. د دې څخه مخکې هم د ايران د نفتو سکتور تر سخت فشار لاندې و او د بحري محاصرې له زياتېدو وړاندې اقتصادي ستونزو په ټول هېواد کې پراخ اعتراضونه راپورته کړي وو، چې د مذهبي مشر په مشرۍ نظام پر ضد يې فشار زيات کړی و.

همدارنګه متحده ايالاتو ژمنه کړې چې د ايران ټولې کنګل شوې او محدودې شوې شتمنۍ او مالي وجوهات به په بشپړ ډول د استفادې لپاره ازاد کړي. دواړه لوري به د خبرو اترو په ترڅ کې د دغو پيسو د آزادولو پر

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کړنلارې هوکړه وکړي. دغه شتمنی، که په اصلي حسابونو کې پاتې وي او که بل ځای ته لېږدول شوي وي، د ایران د مرکزي بانک له خوا د ټاکل شویو مستحقو لورو لپاره به په بشپړ ډول د کارونې وړ وي او متحده ایالات به په دې برخه کې ټول اړین جوازونه او تاییدونه صادروي. د بلومبرګ د راپور پر بنسټ د ایران د کنګل شویو پیسو اندازه له ۲۴ میلیارده ډالرو څخه تر ۱۰۰ میلیارده ډالرو پورې رسېږي.[6]

**٦- د اټومي وسلو او غني شویو یورانیمو په اړه هوکړه:** د لاسلیک شوې هوکړې د اتمې مادې پر بنسټ ایران ژمنه کړې چې اټومي وسلې به نه تولیدوي او نه به یې هم ترلاسه کوي او زېرمه شوي یورانیمو په اړه به د نهایي هوکړې پرمهال یو متقابل منل شوی میکانیزم رامنځته کړي.

ایران د اټومي وسلو د نه جوړولو هوکړه د اوباما په دوره کې د ۲۰۱۵ز. کال په هوکړه کې هم کړې وه، خو د انرژۍ د نړیوالې ادارې د راپورونو پر بنسټ متحده ایالاتو ته واضحه شوه چې ایران د یوارنیمو غني کول له ٦۰ سلنه اړولي دي چې دا د هوکړې خلاف دي، نو ځکه ټرمپ دغه تړون لغوه کړ. ایران یو ځل بیا هوکړه کوي چې اټومي وسلې به نه تولیدوي او دغې هوکړې یې یو څه کورني غبرګونونه او مخالفتونه هم راپارولي دي. د دې ترڅنګ سره له دې چې د شته غني شویو یورانیمو په اړه به وروسته پریکړه کېږي، خو څېړونکي په دې نظر دي چې دواړه لوري په ابتدایي ډول په دې راضي شوي چې د انرژۍ د نړیوالې ادارې د استازو په شتون کې به دغه اضافه یورانیم په هماغه خپل ځای کې کمزوري کړی شي.

**۷- د نهایي هوکړې لپاره شرایط او اجرایوي میکانیزم:** په دې هوکړه لیک کې دواړو لوریو هوکړه کړې چې تر هغې پورې چې د دې هوکړه لیک ۱، ۴، ۵، ۱۰ او ۱۱مې مادې نه وي عملي شوي تر هغې به نهایي تړون لپاره مذاکرات پیل نشي. په دغو مادو کې د اوربند ټینګول، د متحده ایالاتو له لوري د سمندري محاصرې پای ته رسول، د ایران له لوري د هرمز تنګي پرانېستل، د تېلو د صادراتو معافیتونه صادرېدل او د کنګل شویو شتمنیو ازادول شامل دي. د دې ترڅنګ د نهایي تړون او دغې هوکړې د عملي کولو لپاره به یو اجرایوي میکانیزم هم رامنځته کېږي.

تمه وه چې په سویس کې ایراني او امریکایي لوري سره مذاکرات پیل کړي او د متحده ایالاتو په استازولۍ د جمهور رئیس مرستیال ګډون وکړي، خو ایران دغه مذاکرات لغوه کړل او سویس ته یې هیڅ سفر ونکړ او کېدای شي یو دلیل یې دا وي چې د اوربند ماده نه ده عملي شوې او اسراییلو په لبنان کې خپل بریدونه نه دي درولي، خو د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر اسحاق ډار وایي چې د ایراني پلاوو نه ګډون د محرم په مراسمو کې د ګډون له امله دی، خو اوس ثابته شوه چې دا ځنډ د محرم د مراسمو له امله نه و، ځکه ایرانی پلاوی اوس سویس ته د خبرو اترو لپاره رسېدلی دی او سره له دې چې د محرم مراسم لا پای ته نه دي رسیدلي، نو

لومړنی دلیل سم دی او هغه د لبنان قضیه ده چې ایران، متحده ایالاتو ملامتوي چې د هوکړې مواد یې نه دي عملي کړي.

وروستۍ نهايي هوکړه یا تړون به د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پریکړه لیک له لارې تایید شي.

دا چې دغه هوکړه دا چا په ګټه ده؟ د دې پوښتنې په ځواب کې ویلای شو چې د هوکړې له متن څخه څرګندیږي چې ایران په دغه هوکړه کې برلاسه دی او امتیازات یې له متحده ایالاتو څخه ډیر دي. ټرمپ پرانېستی هرمز د جګړې له لارې بند کړ او اوس بېرته د هماغه هرمز د پرانېستو په مقابل کې ایران ته امتیازات ورکوي چې له دې معلومیږي چې ایران ګټه کړې ده. دویم د اتومي وسلې د نه جوړېدو خبره ده، نو دا خو د اوباما سره په شوي تړون کې هم ایران منلې وه چې اتومي وسله نه جوړوي او د انرژۍ نړیوالې اداري ناظرینو ته په د نظارت ټول فرصتونه برابروي، نو ټرمپ نوي هیڅ هم نه دي ترلاسه کړي او ایران ډېر څه ترلاسه کړل، لکه: د بندیزونو لرې کېدل، د بیارغونې پراخه پیسې، د کنګل شویو پیسو ترلاسه کول، په منځنې ختیځ کې د یو قدرت په توګه راڅرګندیدل، د متحده ایالاتو او اسراییلو ترمنځ لنډمهاله درځ اچول او داسې نور...

ایا دغه هوکړه به وکولای شي چې دایمي سوله رامنځته او جګړه پای ته ورسوي؟ د دایمي هوکړې رامنځته کېدل ستونزمن بریښي، ځکه ایرانیان په خپل دریځ کې کلک دي او که متحده ایالات د ابتدایي هوکړې له موادو سرغړونه کوي، نو ایرانیان به هم په کړې وعدو وفا نه کوي او هغوی ته به د تېښتې یوه لاره پرانېستل شي. د لبنان موضوع کې سره له دې چې د متحده ایالاتو او اسراییلو اختلاف شته، خو کېدای شي اسراییل بیا هم په لبنان کې نیول شوې سیمې پرېنږدي او یا حتی جګړه پای ته ونه رسوي، نو دا به د هوکړې د موادو سرغړونه وي او کېدای شي دایمي هوکړې په وړاندې خنډ پیښ کړي او امکان شته چې بیا جګړه پیل شي.

د راتلونکې سناریو په بڼه ویلای شو چې دغه هوکړه ډېره پېچلې او په ډېر عاجلانه ډول د فشارونو له امله لاسلیک شوې ده. له دې هوکړې ځینې امریکایي چارواکي او حتي امریکایي وګړي ناراضه بریښي. د دې ترڅنګ اسراییل هم دغه هوکړه د ځان په ګټه نه بولي او له امریکایي لوریو سره یې خپل نارضایت شریک کړی دی، دا چې د امریکا متحده ایالاتو پر سیاست او اقتصاد تر ډېره یهودي وګړي نفوذ لري، نو د دې هوکړې راتلونکی له مبهم حالت سره مخامخ دی، نو دلته درې سناریو مطرح کولای شو: لومړی، همدا هوکړه عملي شي او د همدې په رڼا کې نهايي دایمي تړون رامنځته شي چې د دې سناریو امکانات کم بریښي او دلایل یې موږ پورته ذکر کړي دي. دویمه سناریو دا ده چې دغه هوکړه ماته شي او د نهایي تړون مذاکرات هم ناکام شي او جګړه بیا پیل شي، دا سناریو د لومړنۍ سناریو په پرتله قوي ده، خو د عملي کېدو امکانات یې کم بریښي، ځکه نه ایران غواړي چې بیا جګړې ته لاړ شي او نه هم متحده ایالاتو غواړي چې جګړه کې



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

بیا ځان ښکیل کړي. دریېمه سیناریو دا ده چې نهایي تړون لپاره به مذاکرات بریالي شي، خو دغه اوسنۍ هوکړه کې بیا بدلونونه راشي او دا سیناریو قوي برېښي او کېدای شي دا تطبیق هم شي.

**پایله**

د ایران او متحده ایالاتو ترمنځ د ۲۰۲٦ز. کال لاسلیک شوې هوکړه د دواړو هېوادونو ترمنځ د درې میاشتنۍ جګړې د درولو او د اوږدمهاله تفاهم لپاره د یوه لنډمهاله چوکاټ په توګه ارزول کېدای شي. په دې هوکړه کې د اوربند ټینګښت، د هرمز تنګي د بیا پرانیستلو، د ایران پر وړاندې د اقتصادي فشارونو د کمولو، د کنګل شویو شتمنیو د ازادولو او د اټومي پروګرام په اړه د راتلونکو مذاکراتو لپاره زمینه برابره شوې ده. له بلې خوا، ایران یو ځل بیا د اټومي وسلو د نه تولید ژمنه کړې، خو د غني شویو یورانیمو، توغندیز پروګرام او نورو حساسو موضوعاتو په اړه وروستۍ پرېکړې راتلونکو مذاکراتو ته پرېښودل شوې دي. ایران د دغه هوکړې له لارې ډېر امتیازات ترلاسه کړي او ظاهراً داسې ښکاري چې دغه هوکړه د ایران په ګټه ده. ایران وکولای شو چې د نظام د سقوط مخه ونیسي او د پراخې پلان شوې تباهۍ مخنیوی وکړي.

د هوکړې له متن او لومړنیو امتیازاتو څخه داسې ښکاري چې ایران په اقتصادي او سیاسي ډګر کې د پام وړ امتیازونه ترلاسه کړي دي، په داسې حال کې چې متحده ایالاتو تر ډېره د جګړې د پراخېدو د مخنیوي او د سیمه ییز ثبات د ساتلو موخه تعقیب کړې ده. سره له دې، د دواړو لوریو ترمنځ د بې باورۍ اوږده سابقه، د اسرائیلو او لبنان اړوند اختلافات، د اټومي او توغندیزو مسایلو پېچلتیا او د هوکړې د موادو د عملي کېدو په برخه کې احتمالي خنډونه هغه عوامل دي چې د دایمي سولې او وروستۍ هوکړې د بریا په وړاندې جدي ننګونې رامنځته کوي.

له همدې امله، اوسنۍ هوکړه د دواړو هېوادونو ترمنځ د شخړې د بشپړ حل تضمین نه ګڼل کېږي، بلکې د تاوتریخوالي د کمولو او د سیاسي مذاکراتو د دوام لپاره یو فرصت او موقتي چوکاټ بلل کېدای شي. د دې هوکړې نهایي بریا به تر ډېره د دواړو لوریو د ژمنو پر عملي کېدو، د سیمه ییزو لوبغاړو پر چلند او د متقابل باور د رامنځته کېدو پر کچې پورې تړلې وي.

د دې هوکړې په پایله کې د اسراییلو او متحده ایالاتو ترمنځ یو څه اختلافات پیداشول په ځانګړې ډول د لبنان پر سر او د دغه دوه قدرتونو ترمنځ د درځ رامنځته کېدل د دې هوکړې مهمه اغېزه ده. د هوکړې مواد ډېر سخت او پېچلي دي او عملي امکانات یې ډېر کم برېښي، نو د دې امکان شته چې د هوکړې مواد نقض شي او د نقض په صورت کې دایمي هوکړه هم نه رامنځته کېږي او امکان شته چې دواړه لوري جګړې ته سره ښکته شي.

## سرچيني

[1] Caitlin Doornbos, Emily Goodin, Ronny Reyes. (2026). “Complete 14-point US-Iran peace deal finally revealed — kicking off 60-day clock to do the hardest work yet”, New York Post, Access link: https://www.msn.com/en-us/news/other/complete-14-point-us-iran-peace-deal-finally-revealed-by-trump-administration-read-text-in-full/ar-AA25TWsr

[2] FP Staff. (2026). “U.S.-Iran Memorandum of Understanding: Full Text”, Foreign Policy, Access link: https://foreignpolicy.com/2026/06/17/trump-us-iran-memorandum-of-understanding-mou-deal-read-full-text/

[3] Alayna Treene, Kevin Liptak and Mostafa Salem. (2026), “US releases official agreement with Iran. Read the 14-point text”, CNN, Access link: https://edition.cnn.com/2026/06/17/middleeast/us-iran-war-mou-text-intl

[4] FP Explainers. (2026). “Inside Israel’s plan to carve out a 'buffer zone' in Lebanon”, First Post, Access link: https://www.firstpost.com/explainers/inside-israels-plan-to-carve-out-a-buffer-zone-in-lebanon-13993579.html

[5] Syeda Qandeel Zehra. (2026). “Petrol Price in Pakistan Reduced by Rs74 – Major Relief Announced by Government”, Hamari web, Access link: https://enews.hamariweb.com/pakistan/petrol-price-in-pakistan-reduced-by-rs74-major-relief-announced-by-government/

[6] Stephen N R. (2026). “China, India, Iraq...: Where Iran's $100 billion is frozen”, Gulf News, Access link: https://gulfnews.com/world/mena/china-india-iraq-where-irans-100-billion-is-frozen-1.500577717

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000